World Fuel Services® | WORLD ETHICS

# د سوداګریز همکار
# د اصولو کړو وړو

## اقتصادي روڼتيا او زموږ ګډ ارزښتونه

د نړۍ د تيلو په خدماتي شرکت (World Fuel Services ("WFS")) کې، موږ په کلکه سره په دې باور لرو چې پايلو ته رسيدل په خپله د همغو پايلو په اندازه مهم ګڼل کيږي. WFS د ټولو اجرا وړ قوانينو او مقرراتو له روحيې څخه پيروي او په هر وخت کې د اخلاقي کړو وړو مراعات ته ژمن ده. هر کله چې له WFS او يا هم د هغه په استازيتوب کار کوو، موږ له ټولو وړاندې کوونکو، قراردادیانو او خپلو استازو څخه او همداشان له هغو کارکوونکو، قراردادیانو او استازو څخه چې د هغو په استازيتوب کار کوي (په ډله ايزه توګه "سوداګريز همکاران") غوښتنه کوو تر څو خپله دا ژمنه په عمل کې ثابته او له همدې معيارونو او ارزښتونو څخه پيروي وکړي. هر کله چې موږ درک کړه چې زموږ سوداګريز همکاران، زموږ غوښتنې نشي پوره کولای، په هغه صورت کې به موږ خپل مناسب اقدامات د سوداګريزو اړيکو د پريکون په ګډون تر لاس لاندې ونيسو.

## د فساد ضد قوانين

سوداګريز همکاران بايد له WFS سره د کار په تړاو له فساد ضد قوانينو او مقرراتو څخه پيروي وکړي، له هغې ډلې د امريکا د متحده ايالتونو د بهرني فساد د کړنو قانون (U.S. Foreign Corrupt Practices Act) او د بريتانيا د بډې خوړلو قانون (U.K. Bribery Act). سوداګريز همکاران نه بايد هېڅکله په مستقيمه يا غيرمستقيمه توګه هېڅ ډول پيسې، سوغات اود ژمنې د ورکړې يا نورو غيرقانوني ګټو څخه کار واخلي او نه هم بايد دې ډول کارونو ته اجازه ورکړي. ټولې سوداګريزې معاملې بايد په رڼه توګه تر سره شي او په دقيقه توګه د سوداګريز همکار په کتابونو او اسنادو کې منعکس شي.

## سوداګريز قوانين

زموږ سوداګريز همکاران بايد له WFS سره د کار په مهال ټول اقتصادي بنديزونه، د ممنوعيت بنديزونه او نور سوداګريز محدوديتونه (په ډله ايزه توګه "سوداګريز قوانين") په کلکه سره مراعات کړي. په دغو سوداګريزو قوانينو کې هغه سوداګريز محدوديتونه شامل دي چې د امريکا د خزانو د وزارت د بهرنيو شتمنيو د کنټرول دفتر ("OFAC")، د امريکا له خوا په تور ليست کې شامل کسان "SDN List")، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا، اروپايي ټولنې او د بريتانيا د ملکي د خزانې د دفتر له خوا اداره او تر سره کيږي.

## د انحصار او سيالۍ ضد قوانين

دا د WFS تګلاره ده چې د انحصار او سيالۍ ضد ټولو پلي کېدونکو قوانينو، د سوداګرۍ د کړو وړو قوانينو، د بېلګې په توګه هغه قواعد او مقررات چې له انحصار، غيرعادلانه سيالۍ، د سوداګرۍ او سيالۍ محدوديت او له سيالانو او پيرودونکو سره د مناسبو اړيکو د تضمين په برخه کې ټولو قوانينو (په ټوله کې «د انحصار او سيالۍ ضد قوانين») ته په پوره درناوي سره په بازارونو کې په پوره ځواک سره سيالي وکړي. سوداګريز همکاران بايد د انحصار او سيالۍ ضد ټول پلي کېدونکي قوانين رعايت کړي او هېڅکله داسې بايد و نه کړي او نه هم د دې هڅه وکړي چې له کوم دربيم کس څخه ناعادلانه ګټه د محدود شويو اطلاعاتو د درغلۍ، پټيدا، ناوړه ګټې اخيستنې او ناعادلانه چلند او يا بل هر ډول عمل چې ښايي په ناعادلانه توګه پر سيالۍ باندې اغيزه وکړي لکه د نرخونو ثابت ساتل يا د بازار تخصيص، تر لاس لاندې ونيسي.

## د ګټو ټکر

سوداګريز همکاران بايد له ټولو ربښتينو يا درک کېدونکو د ګټو له ټکرونه څخه ډډه وکړي او ټول سوداګريز تصاميم بايد په بې پرې توګه او د يوه سالم سوداګريز استدلال له مخې تر سره کړي. سوداګريز همکاران نه بايد داسې کار تر سره کړي، وړاندې کړي يا يې غوښتنه وکړي چې هغه ښايي د WFS کارکوونکی يا د پيرودونکي قضاوت او خپلواکي له خطر سره مخ کړي او يا هم داسې څه په نظر راشي. سوداګريز همکاران نه بايد د WFS له هېڅ يوه کارکوونکي سره معامله وکړي کوم چې د هغه ميرمن/ميړه، د ژوندانه شريک يا د کورنۍ کوم غړی يا د هغه خپلوان د سوداګريز همکار له خوا استخدام شوي وي يا هم د سوداګريز همکار په دفتر کې د پام وړ مالي ګټې ولري (پرته له ارزښت لرونکو اوراقو څخه کوم چې په عمومي توګه معامله کيږي). سوداګريز همکاران بايد د دا شان بالقوه يا ربښتينو ګټو د ټکر په پيژندو سملاسي د WFS له ارتباطي کس سره اړيکه ونيسي.

## د اطلاعاتو محرميت او خونديتوب

د WFS دفتر د هر هغه کس د محرميت خوندي ساتلو ته ژمن دی چې زموږ سوداګريز همکاران له هغوی سره کار کوي، البته د نورو سوداګريزو همکارانو، پيرودونکو، مصرفوونکو او کارکوونکو په ګډون. سوداګريز همکاران بايد د اطلاعاتو د محرميت او خونديتوب ټول هغه پلي کېدونکي قوانين، ځارونکي الزامات او په دې برخه کې تر ټولو غوره کړه وړه چې کله شخصي معلومات را ټوليږي، زيرمه کيږي، پروسيس کيږي، انتقاليږي او

يا هم شريک کېږي، مراعات کړي. همداشان، سوداګريز همکاران بايد د WFS د ملکيتونو ټول محرم معلومات خوندي وساتي او نه بايد هغه د WFS له ليکلي رضايت پرته دريېم کس ته افشا کړي او بايد له معلوماتو څخه د ناوړه ګټې اخيستنې مخنيوی وکړي، لکه په WFS کې د اسهامو سوداګري، د هغه پيرودونکي او يا هم د مادي محرمو معلوماتو له مخې د هغوی نور سوداګريز همکاران.

## روغتيا، خونديتوب او چاپيريال

WFS ژمن دی چې د وګړو روغتيا او خونديتوب او په هغه ځای کې چې فعاليت کوي هلته له چاپيريال څخه ساتنه وکړي. د روغتيا، خونديتوب او چاپيريال د ټولو پلي کېدونکو قوانينو له مراعات سربيره، له سوداګريزو همکارانو څخه هيله کېږي چې د خپلو فعاليتونو له کبله پر ټولنه، چاپيريال او طبيعي سرچينو باندې خپل منفي اغيز را ټيټ کړي په داسې حال کې چې د عامه وګړو د روغتيا او خونديتوب ساتنه هم بايد وکړي.

## بشري حقونه

سوداګريز همکاران بايد خپل فعاليتونه په داسې ډول تر سره کړي کوم چې د بريتانيا د ۲۰۱۵ کال د عصري غلامي له قانون (UK Modern Slavery Act 2015) او د بشر د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو له نړيوالې اعلاميې (United Nations Universal Declaration of Human Rights) سره سرولګوي چې په هغو کې لاندې موارد شامليږي: له اجباري کار يا په کار کې د ماشومانو له کارولو څخه ډډه کول، د تبعيض، ځورونې، ناوړه ګټې اخيستنې او يا د کار په ځای کې له غچ اخيستلو څخه ډډه کول؛ او د داسې معاشونو، ګټو او کاري ساعتونو ورکول کوم چې پلي کېدونکي قانوني معيارونه او مقررات پوره کوي يا تر هغه هم وړاندې ځي.

## د سازګاري تفتيش

سوداګريز همکاران بايد WFS ته د خپلو سوداګريزو فعاليتونو، شرکتي جوړښت، مالي وضعيت او کارکړنې په اړه له قراردادي شرايطو، مقرراتو او غالبو شرکتي کړووړو سره سم دقيق معلومات ورکړي. هر کله چې اړتيا وي او د معقولانه خبرتيا له مخې، WFS د سوداګريز همکار د کړو وړو د اصولو (Business Partner Code of Conduct) سره د سازګاري د تاييد په موخه د تفتيش د تر سره کولو حق له ځان سره خوندي ساتي. سوداګريز همکاران بايد د سازګاري د ثابتولو په موخه اصلي او دقيق اسناد له ځان سره وساتي، WFS ته د اړتيا له مخې اړين لاسرسی او معلومات ورکړي او د تفتيش په درشل کې که چيرته کومې نيمګړتياووې رامنځته کېږي، په ښه نيت سره د هغو د ښه والي او اصلاح لپاره لاس په کار شي.

## د دريېم کس د حقونو نشتوالی

د سوداګريز همکار د کړو وړو اصول هېڅ راز حقونه دريېم کس ته نه ورکوي. د هېڅ يوه سوداګريز همکار کوم کارکوونکی د WFS پر وړاندې هېڅ راز حقونه د سوداګريز همکار د کړو وړو د همدې اصولو له مخې نه لري، نه هم دا ډول کارکوونکي دا حق لري تر څو WFS د سوداګريز همکار د کړو وړو د اصولو د مقرراتو تنفيذ ته وهڅوي.

## د شکايتونو او نظريو د ثبت ټليفون شمېره

WFS دا لازمه ګڼي چې د WFS د يوه کارکوونکي، سوداګريز همکار او يا هم هر هغه دريېم کس چې په خپله استازولې فعاليت کوي د هغو له خوا د ناعادلانه يا غيرقانوني رېښتينو يا بالقوه کړووړو په اړه بايد سملاسي رپوټ ورکړي. دا ډول رپوټونه بايد د WFS د مديريت يوه غړي او يا هم حقوقي برخې ته ورکړل شي او يا هم د شکايتونو د ثبت له شمېرې 8742-787 (877) 1+ (په امريکا کې وړيا ټليفوني شمېرې)، 5690-776 (770) 1+ (نړيوالو اړيکو لپاره) او يا هم په انلاين ښه په لاندې پته کې خپل شکايتونه ثبت کړي: http://www.reportlineweb.com/wfs.

د کاپي حق © ۲۰۱۷ د نړۍ د تيلو خدماتي شرکت

# د سوداګریز همکار د رضایت تصدیق

د یوه مسوول، تنظیم شوي او په عامه بڼه -د سوداګرۍ د یوه امریکایي شرکت په توګه، د نړۍ د تیلو د خدماتي شرکت (WFS) ټیم سره له ټولو نورو سب سایډي شویو شرکتونو او تړلو شرکتونو (په ټوله کې "WFS")، د وړاندې کوونکو، قراردادیانو، نورو خدماتو وړاندې کوونکو او نورو شرکتونو (چې له دې وروسته ورته "سوداګریز همکاران" ویل کېږي) په وړاندې د پوره دقت د لوړو معیارونو د کارولو په خاطر پر ځان ویاړي. موږ دا کار تر سره کوو تر څو د خپل شرکت د سازګارتیا لوړ معیارونه خوندي وساتو، له کورنیو او بهرنیو پلي کېدونکو مقرراتو څخه پیروي وکړو او د خپل ځان او خپلو پیرودونکو او سوداګریزو همکارانو شهرت هم په ورته بڼه سره خوندي وساتو.

د ټولو هغو نورو ضوابطو او شرایطو لاندې چې WFS او یو سوداګریز همکار ښايي هغو ته ژمن واوسي، هر هغه کله چې له WFS یا د هغه په استازیتوب کار کوي، موږ له ټولو سوداګریزو همکارانو او همداشان له ټولو کارکوونکو، فرعي قراردادیانو او هغو استازو چې د هغوی په استازیتوب کار کوي، هیله کوو چې اخلاقي اصولو ته زموږ په څېر ورته ژمنه ولري. موږ دغه الزامات د سوداګریز همکار د کړو وړو په اصولو کې را لنډ کړي دي. د مهرباني له مخې مو پام وي چې WFS هر هغه وخت چې زموږ سوداګریز همکاران زموږ د سازګارتیا غوښتنې پوره نه کړای شي، نو د سوداګریزو اړیکو د پرېکون په ګډون مناسب ګامونه به تر لاس لاندې ونیسي.

دا چې د WFS د سوداګریز همکار د کړو وړو اصول مو ولوستل، نو مهرباني وکړئ هغه لاسلیک او په بېره يې د WFS ارتباطي کس ته ورکړئ.

ډېره زیاته مننه

د WFS د نړۍ اخلاقي ټیم
https://www.wfscorp.com/About-Us/Ethics-and-Compliance

غواړم تصدیق کړم چې زما شرکت د WFS د سوداګریز همکار د کړو وړو اصول کتلي او له هغو څخه پیروي کوي.

د سوداګریز همکار نوم: ____________________________________________

د استازي نوم: ________________________________________________

د استازي تخلص: _______________________________________________

د استازي برېښنالیک پته: _______________________________________

د استازي لاسلیک: ____________________________________________